# اسامه بن لادن په افغانستان کې



له تورې بوړې تر ايبټ آباده – د اسامه زوي د خپل پلار کيسه کوي

ليکوال: استاد مصطفی حامد (ابوالوليد المصري)

ژباړه : عبدالرحيم (ثاقب)

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ليکوال سريزه

د دې کيسې روايت کوونکی داسې څوک دی چې هغه شخصا د کيسې د ټولو جرياناتو عيني شاهد پاتې شوی نه دا چې هغه يې له بل چا اوريدلي او يا نقل کړي وي.

هو! دا شخص د اسامه بن لادن هغه زوی دی کوم چې له نوموړي سره د ده د وروستي سفر هم لاری و.

دوی دا سفر په ګډه د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر د مياشتې له لومړۍ لسيزې شروع د ۲۰۰۲ کال تر پسرلي پورې جاري ساتلی دی.

دا يو کلن سفر چې له کابل څخه يې تر تورې بوړې ، کونړ، ډيورنډ کرښې هاغاړې قبائلي سيمې او بالاخره پيښور پورې اوږد واټن وهلی داسې يو خطر ناک سفر دی چې هره شيبه يې د استخباراتي شبکو تر تعقيب ، د امريکايي الوتکو تر بمبار او سيمه ييزو جاسوسانو تر څارنې لاندې تيره شوې ده.

زه د دې کيسې د ليکوال په توګه کله چې پر کومې موضوع خپله تبصره او ياهم وضاحت کول غواړم نو هغه د دې لپاره چې وپيژندل شي چې دا زما خپله تبصره او نظر دی په قوسينو کې په جلا مائل خط ليکم.

ما د خپل توان په کچه کوښښ کړی چې د دې پيښې د احداثو لپاره د جګړې له روزمره پيښو څخه تاريخونه را پيدا او دلته ورسره يوځای کړم.

له دې پرته نورهرڅه خپله د کيسې د راوي خبرې دي کومې چې يې د کيسې له پيله ترپايه له افغانستان څخه ترپاکستان / پيښور پورې له خپل پلار سره د ملتيا په اړه ماته روايت کړي دي.

پاکستان پيښور ته په رسيدو سره دواړه يوله بل نه جلا شوي او هر يوه د شخصي تحفظ او د دښمن له تعقيب څخه د ځان ژغورنې په خاطر ځانګړی لوری ځانته ټاکلی دی.

دلته د کيسې راوي په ايبټ آباد کې د امريکايي ځانګړيو ځواکونو په بريد کې د اسامه بن لادن د وژل کيدو کيسه هم کړې خو هغه يې د پيښې د عيني شاهد په حيث نه ؛ بلکې د خپلې کورنۍ د غړيو د هغو عيني مشاهداتو پر اساس کړې کوم چې يې د دې بد مرغې پيښې ټوله ماجرا په خپلو سترګو ليدلې وه.

چې د ده د خبرو پيل په لاندې جملې پيليږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له کابله تر تورې بوړې!

د سپتمبر له پیښې وړاندې مې پلار کندهار د کابل په نیت پرېښود او هلته په کلکانو د جګړې په لومړۍ کرښه کې تم شو چې کله ناکله به یې د جګړې له ستومانۍ څخه د دمې اخیستو لپاره هغه استوګنځې ته هم سر ورښکاره کاوه چې د لومړي خط شاته یې په لنډ واټن کې موقعیت درلود.

همدا راز په کلکانو کې د جګړې له لومړۍ کرښې څخه به وخت ناوخته د لوګر ولایت د مس عینک غونډ او له هغه ځایه د جلال آباد د تورې بوړې د غرونو خوا ته هم تلو تر څو هلته له دښمن (امریکایي ځواکونو)سره د راتلونکې جګړې له پاره تیارۍ ونیسي.

د کابل ، لوګر، جلال آباد او تورې بوړې ترمنځ تګ راتګ یې تقریبا څو اوونۍ دربر ونیولې.

د کابل د سقوط په ورځ (۱۱ نومبر د ۲۰۰۱) مې پلار په کابل کې و ، چې د ښار له سقوط سره سم د خپلو څو تنو مخلصو ملګرو جهادي قومندانانو هر یو (اول ګل ) (محمد رحیم ) او( ډاکټر امین) په ملتیا جلال آباد ته ولاړ.

د ( دسمبر په شپږم ۲۰۰۱) د ننګرهار د سقوط په ورځ مونږ ټول په یوه فور بای فور موټر کې سپاره او په توره شپه کې مو د تورې بوړې پرخوا ور ووهله.

حمزه الغامدي په ډیرمهارت سره په مږو څراغونو ډریوري کوله او امریکایي الوتکو په ننګرهار ښار او شاوخوا سیمو خطرناکه بمباري کوله.

د تورې بوړې غره ته په رسیدو سره مو موټر لاندې متوقف او مونږ پلي د غره په لوري ور روان شو.

تر درې ساعته مزله وروسته د تورې بوړې په غره کې د میشتو عربانو لومړني مرکز ته ورسیدو.

دا ځای په توره بوړه کې د ترصد کوونکي ګروپ مرکز و، شپه مو هلته ورسره تیره کړه ، سهار په لمر څرک مو تر ناشتې وروسته بیا د غره د هسکې څوکې په لور خپل سفر ته کش ورکړ مازدیګر ناوخته و چې د عربانو یو بل مرکز ته ورسیدو، هلته مو په ډیر مشکله د خوراک له پاره څه وریجې او کچالو پیدا او نوش جان کړل او نور مو تر ونو لاندې د دمې په نیت ځانونه واچول.

په دې سترې سفر کې چې د غره په لاښونو کې سپینې واورې راباندې راچاپیر وې پلار مې نور هم مخ پورته د لوړ ختلو امر وکړ چې هلته په رسیدو سره له افغانستان سره په پوله د ډیورنډ کرښې هاخو قبائلي سیمې راته ښکاریدلې.

هلته زمونږ د دمې ځای د دوو پښتنو قبیلو ترمنځ موقعیت درلود کومې چې د ډیورنډ کرښې سره جلاکړې دي، د دې ځای خلک د مولوي خالص تنظیم مربوط د شهید انجنیر محمود پلویان وو چې مونږ ورسره څه کم یوه اوونۍ تم شولو.

دلته تر یوې اوونۍ تیرولو وروسته مې پلار د یوه افغاني راه بلد په ملتیا نور هم په غره کې د لوړ ختلو تکل وکړ چې دې مزل نږدې لس ساعته وخت ونیو، بالاخره د مازدیګر د لمانځه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت را باندې راغی چې تر اداء کولو وروسته مو بیا د سهار تر لمانځه پورې ستونزمن سفر ته دوام ورکړ.
د سهار ترلمانځه وروسته مو هم د وروستي منزل په لور ستړي ګامونه پیل کړل.
په دې حال کې مو د پلار د خوندیتوب په غرض په سیمه کې د موجودو دوو قبیلو له منځه له یوې سره خبرې رواني وې.
له پلار سره مې په دې سفر کې د ډاکټر ایمن الظواهري، سلیمان ابوالغیث ، ابوعمرالمغربي ، او حمزه الغامدي په شمول ۳۰ تنه نور ملګري هم مله وو.
زه او ورور مې هم د دې ستړي کاروان لارویان وو چې له خپل پلار سره مو په ټولو چارو کې مرسته کوله .
د همدې اوږده سفر په ترڅ کې د شپې مهال تر سپیده چاود وړاندې یوه کلي ته ورسیدو، خو له هغه ځایه ډیر په منډه ووتلو ترڅو کلیوال راخبر نشي او د سفر مسیر مو افشاء نه کړي.
بالآخره د غرونو په منځ کې یوه ګوښه کورته ورسیدو هلته مو ډډې ولګولې او ټول تر ماسپښینه پورې په ژور خوب بیده شول.
د ماسپښین ترلمانځه وروسته کوربنو راته ډیره مکلفه ډوډۍ تیاره کړې وه چې مونږ هم په ښه اشتهاء وخوړه.
تر نیمې شپې همدلته تم شولو او بیا همدې کوربنو راته یو باروړونکی لوی موټر راوست چې تر دې کلي لوړ یوه بل ځای ته یې د غره سر ته ولیږدولو.
هلته فقط یوه ودانۍ وه چې دوې کوټې یې لرلې او خلکو د مالونو (پسونو) ساتلو لپاره تري کار اخیست او زمونږ تر ورتلو وړاندې پکې کیکو (وروږ) ښې ډیرې ځالې جوړې کړې وې.
مونږ په داسې حال کې چې سخت ستړي او ستومانه و همالته مو واړول، زه او پلار مې ، ډاکټر ایمن الظواهري، او سلیمان ابوالغیث په یوه کوټه او زما ورور او نور ملګري په بله هغې کې ځای پرځای شولو.
پر دې ځای باندې ملګرو د کیکو د کور نوم کیښود، ما به همدا د کیکو په کور کې د خپلې ویډیویي کیمرې په وسیله د خپل پلار په پټه عکاسي کوله، چې دا کیمره مې د سفر د ټول بهیر د عکاسۍ له پاره تر پایه له ځان سره وساتله.
د کیکو په کور کې مو یوه اوونۍ تیره کړه، په دې حال کې له مونږ عربانو پرته بل هیڅ راه بلد ځوک نه و.
هماغه د کیکو په کور کې د اوسیدو پر مهال د ډاکټر ایمن الظواهري د میرمنې ، محمد صلاح، او عبدالهادي اردني د شهادت خبر هم راورسیدو.
د دې خبر تر اوریدو وروسته مې پلار بیرته په توره بوره کې د عربو مرکزونو ته د تللو پریکړه وکړه، ډاکټر ایمن الظواهري ته یې وویل چې ته د دې خواشینوونکي خبر د اوریدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

له امله یوه ورځ همدلته نور هم دمه وکړه ، له هغه سره یې څو نفره ملګري هم پریښودل زه او نور پاتې ملګري مې له پلار سره د تورې بورې د مرکزونو پرخوا را روان شوو.
د کیکو له کوره د تورې بورې په خوا زمونږ دا راګرځیدل زمونږ لویه اشتباه وه ، ځکه مونږ په لوی لاس ځان د خطر ځای ته واچاوه ، په همدې لاره کې راباندې امریکایي الوتکو بمونو وغورځول چې یو بم یې په څو متری کې راته ولګیده ، د بم له لګیدو سره سم مې پلار ځای پر ځای کیناست، زه یې مخې ته ناست وم نور ملګري شاوخوا سره تیت شول.
بنه ګړۍ وروسته چې د بمونو لوخړې ورکې شوې بیا مو خپل مزل په مخه واخیست او په توره بوره کې د ملګرو دفاعي کربنو ته را ورسیدو.
دوې ورځې وروسته راپسې ډاکټر ایمن الظواهري هم هلته راغی.
په تورې بورې باندې د روژې د میاشتې په ۱۷ نیټه چې د دسمبر له دریمې سره سمون خوري بمبارۍ پیل شوه خو دا بمبارۍ په متفرق ډول وه او پر یوه مشخص ځای یې ترکیز نه درلود.
زمونږ موقعیت د تورې بورې غره په تر ټولو لوړه څوکه کې و، هلته د ټولو عربانو شمیر ۳۱۳ تنه و چې د میشتیدنې په ټوله موده کې ورباندې امریکایي الوتکو ډیر درانه بمونه وغورځول مګر بیا هم د شهیدانو شمیر لسو ته ونه رسیده.
مونږ په توره بوره کې د شتون پرمهال له پاسه د امریکایانو لخوا تر سختې بمباری لاندې وو او د ځمکې له لورې د ځینو سیمه ییزو قومندانانو لکه حاجي زمان، حضرت علی او اول ګل لخوا محاصره وو.
معلم اول ګل چې زما د پلار له نیږدې ملګرو څخه و هسې په نوم له حاجي زمان دوئ سره د تورې بورې په محاصرې کې شریک و خو په حقیقت کې زمونږ ملګري او د محمد رحیم نومي مجاهد (چې زمونږ یو ډیر نیږدې دوست ، بلکې د القاعده تنظیم یو فعال شخص و ) په وسیله به یې مونږ ته د دښمن د لیکو ټول معلومات راکول، چې دا دواړه کسان بیا د امریکایانو لخوا ووژل شول.
امریکایي بي ۵۲ الوتکو به د ورځې له خوا زمونږ مورچلونه بمبارول او ایف ۱۶ هغو به د شپې مهال.
بي ۵۲ به د تک او راتګ په مهال کې بمونه راباندې غورځول او مجاهدینو به د ځان ژغورنې په خاطر ترې خپل ځانونه یوې او بلې خواته ګوښه کول.
د اسامه بن لادن په مورچل کې بریښنایي چیپ (Electronic chip)
کوم ځای چې مونږ ورڅخه د مورچل په توګه استفاده کوله د هغه مساحت (۳× ۲متر) کې و، په همدې مورچل کې مې پلار، ډاکټر ایمن الظواهري ، ابوالغیث او زه خزه وو ( میشت وو).
یوه ورځ د سیمې ځینې خلک زما له پلار سره د لیدنې کتنې او له هغه سره د ستړي مشي لپاره زمونږ سنګرونو ته راغلل، خو د واپسۍ پر مهال د هغوی له جملې څخه کوم یوه په پټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هماغه ځای کې امریکايي الوتکو ته زمونږ د ځای ورښودلو له پاره یو بریښنايي چیپ غورځولی و.
کله چې همدا خلګ زمونږ له سترګو فنا شول سمدستي مې پلار ټولو ته د سیمې پریښودو امر وکړ او ټول لرې ترې ولاړو.
هماغه و چې لږ ګړۍ وروسته الوتکې راغلې او هغه ځای یې سخت بمبار کړ.
پلار مې د بمبار شوي ځای د معلومولو له پاره یو کس هلته ور ولیږو، هغه معلومات راوړل چې الوتکو عین هغه زمونږ پر مورچل دومره لوی بم غورځولی چې ډیره ژوره کنده یې په ځمکه کې جوړه کړې وه، په هغه خندق کې د بم راپریوتو په حال کې یو تن بیده پاتې شوی و.
(۲۷ رمضان ـ ۱۶ دسمبر ): دوې ورځې وړاندې مو د مخابرې له لارې په کندهار کې د ابو حفص مصري د شهادت خبر ترلاسه کړ( یعني ترهمدې نیټې یوه میاشت شاو خوا وروسته ؛ځکه نوموړی د نومبرد میاشتې په ۱۳ورځ شهید کړای شو.)
په همدې ورځ مې پلار راته وویل چې ته او ورور دې دواړه نور له دې سیمې ځخه ولاړشئ، خو ما د هغه خبره رد کړه ورته ومې ویل چې زه نه ؛ بلکې زما ورور دې ولاړ شي.
خو پلار مو د دواړو په تګ ټینګار وکړ، بیا یې همداسې پریښودلو او دی راځخه ولاړ.
لږ ګړۍ وروسته بیا راغی او راته ویې ویل چې ته ، ډاکټر ایمن او ابوالغیث دری واړه یو بل ځای ته ولاړشئ!
داسې ځای چې مونږ ته یې په اړه هیڅ معلومات نه و ، خو تلل مو هلته اړین و او هوري به مو د پلار د راتلو انتظار کاوو.
مازدیګر مهال و چې د یو افغاني راه بلد په ملتیا مو د سفر تیاری ونیو ، پلار مو د خدای پامانۍ له پاره راغی زه یې خپلې سینې ته ورجوخت او په سربandې ښکل کړم، ماټکان وخوړ ځکه دا کله هم د ده عادت نه و او زما نه یادیده چې پلار دي له ما پرته زما د نورو ورونو سر ښکل کړی او یا یې په همدې ډول سره په غیږ کې ټینګ کړی وي.
همدا زه وم چې د سپتمبر تر پیښې وروسته په لوګر کې له اوسیدنې نیولې بیا تر همدې ځایه پوري د ده خادم وم چې کالي او د سفر نور سامان به مې ورسره اخیستی و.
په هرصورت مونږ د تورې بوړې له غره ځخه د شپې په تیاره کې په داسې حال کې راښکته شوو چې د جلال اباد لخوا تر محاصرې لاندې وو، خو مونږ د وزیرو د سیمې په لوري راښکته او همدې د وزیرو قبیلې خلکو په قاچاقي ډول خپل کلي ته راوستلو.
له غره ځخه د راښکته کیدو په مهال نږدې و چې د شمالي ټلوالې کسانو لیدلي وای؛ ځکه په سیمه کې د دوی د پیرې پوسته وه چې د هغې پوستې د ګزمې د موټر رڼا زمونږ پرلور را برابره شوه ، مونږ سمدستي هملته په ځمکه پروت وکړ، زما پښه لګیدلې(زخمي) وه خو په دغه خوږ حالت کې مې د تورې بوړې لوړې ژورې هم وربandې ووهلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګزمې تر تیریدو وروسته مو خپل مزله ته دوام ورکړ یو ځای له لښتي څخه د ټوپ په حال کې د ډاکټر ایمن چشمې (عینکې) له سترګو ولویدې، ښايي لوی ټوپ یې وهلی وي، ځکه په همدې ځای کې چې مو هرڅومره وپلټلې پیدا مو نه کړې ، البته په توره شپه کې.

بالاخره هغه پټ کور ته ورسیدو چې همدې بدرګچیانو زمونږ لپاره لا له وړاندې تیارکړی و، هلته مو یواځې یوه شپه تیره کړه.

سهار د دسمبر په (۱۷) یې پیکپ موټر راته راوست د جلال اباد ښار له څنګه یې تیر او بیا یې همداسې لنډ د کونړ خواته ورتاو او په یوه غره ییزه لاره یې د کونړ مرکز (اسد آباد) ته ورسولو او هلته په یوه غلي کور کې پټ شولو.

د کمکي اختر په سهار (۱۹دسمبر) تر سپیده چاود لیږ وړاندې یو ځوان کوټې ته رادننه او په ډیر احساساتي لهجه یې باندې غږکړل:

جاء الأسامه ... (اسامه راغی) له دې نه څو ثانیې وروسته مې پلار کوټې ته را داخل شو چې مونږ یې په لیدو ډیر خوشاله او سمدستي مو د شکر سجدې وکړې او پلار ته مو وویل چې نن پر مونږ دوه اخترونه راغلل:

کمکی اختراو په سلامتې سره ستاسې د رارسیدو اختر.

چا چې مې پلار راورساوه هغه معلم اول ګل و چې په خپل سپین رنګې لانډ کروزر موټر کې چې په تور رنګ یې لړلی و د کونړ ولایت تر حدودو پوري راوړ او تر هغه وروسته یې زمونږ خپل ملګري ښه راغلاست ته ورغلل او دی یې زمونږ د اوسیدو ترپټ ځایه راورساوه.

مونږه ټول په همدې غلي کور کې په داسې حال کې پټ اوسیدلو چې د ژمي سوړ موسم و او زمونږ شاوخوا سپینې واورې پرتې وې ، سره له دې چې یخ راباندې خولې لګولې خو مونږ د ځان د افشاء کیدو له ډاره هلته د لاس ګرمولو لپاره هم اور نشوای بلولای.

په کونړ کې زمونږ تر درې میاشتنې اقامت وروسته حکمتیار( د ۲۰۰۲ کال په مارچ) کې د خالد الشیخ په وسیله زمونږ اقامتګاه ته راغی.

زما د پلار او زمونږ د ټولو هغو ملګرو ترمنځ چې په پاکستان کې اوسیدل هر ډول ارتباطات د خالد الشیخ له لاري تنظیمیدل.

له پلار سره مې د حکمتیار تر لومړي ملاقات وروسته نوموړی یوه بل ګوښه کور د ځان له پاره تعین او هلته یې یواځې اوسیدل غوره کړل.

له هغه ګوښه ځایه به زمونږ استوګنځي ته راته او زما له پلار، ډاکټر ایمن او ابوالغیث سره به یې سري مجلس کاوه.

سره له دې چې زه او ورور به مې د دوی څلورو په مجلس کې نه کیانستلو، خو د دوی د مجلس له روحیې څخه به مو د دوی ترمنځ ناخوښي، او متشنج وضعیت له لرې حس کاوه.

وروسته حکمتیار زمونږ له هستوګنځي څخه ښه لرې بل ځای ته ولاړ، خو پلار به مې له نوموړي سره د رابطې او مجلس له پاره سلیمان ابوالغیث هماغه لرې ځای ته ورلیږه، مګر

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرځل چې به نوموړی د حکمتیار له مجلسه بیرته راتو له حکمتیار سره د کړي مجلس له امله به سخت نیولی او خفه ښکاریده.
د کونړ د آسمانڅکو غرونو په منځ کې زمونږ د اوسیدنې په مهال خالد الشیخ له کمپیوټر سره مل یوه سي ډي را ولیږله چې پر هغې له پاسه دا جمله لیکلې وه ـ سري للغایه
مونږ چې په داسې وضعیت کې و چې عادي شیان به هم راته سري او تشویش ناک مالومیدل پر سي ډي باندې د (سري للغایه) جملې لا په تشویش کې کړو.
پلار مې هم د کمپیوټر او سي ډي په لیدو سره و ویل:
عجیب !!
دا به تاسو نه ګورئ! بلکې یوائې زه به یې ګورم.
خو کله چې مې پلار سي ډي وکتله نو په هغې کې هیڅ شی هم اشد محرم نه و؛ بلکې په هغې کې د الجزیره ټلویزون د مشهور مصري ژورنالیست یسري فوده هغه ځیرنیز پروګرام ریکارډ شوی و چې د پروګرام عنوان یې (سري للغایه ) و او د سپتمبر د پیښې په اړه ځیړنه او تحقیق ور کې شوی و.
په (سري للغایه ) پروګرام کې مو پر نورو معلوماتو سربیره د لومړي ځل له پاره د ګوانتنامو د بندیانو انځورونه هم ولیدل.
دلته زمونږ د اوسیدنې ښه ډیر وخت وشو چې وروسته مې د پلار په غوښتنه حمزه الغامدي هم راڅخه بلې خوا ته مسافر شو ، فقط پلار، ډاکټر ایمن ، سلیمان ابوالغیث ، ابو بصیر ، زه او ورور مې په استوګنځي کې پاتې شولو.
ما او ورور مې د ورځني ژوند د کارونو نوبت سره جلا کړ، یوه ورځ به د پخلي، جامو مینځلو ، کوټو جاروکولو ... کار ما کاوه او بله ورځ به مي ورور.
د دې لپاره چې ځوک راخبر نشي د شپې په تیاره کې به د اوبو را وړلو لپاره ډیر لاندې خوړ ته کوزیدو او له هغه ځایه به مو په دوو سطلونو کې اوبه راخیژولې.
له لاندې خوړنه د غره سر ته د راختو په حال کې به راڅخه سطلونه چړپیدل او هماغه یخې او به به مو په ځان را تویيدلې چې د یخوالي له امله به داسې راباندې لګیدې لکه مچیو چې به په ښت ښت کې چیچلو.
په ورځ کې به مو درې ځله خواړه تیارول، د سهار ناشته، غرمنۍ او ماخوستن تر لمانځه وړاندې ډوډی.
یوه ورځ مو د سهار ناشتې لپاره معصوبه تیاره کړه .
معصوبه د سعودي د خلکو خوندور خواړه دي .
په دې خوړو کې د وړو په منځ کې عسل او کورنې غوړي ځای پرځای کیږي، ډاکټر صاحب ایمن ته یې خوند ورنه کړ، وای دا خواړه زمونږ د خلکو خواړه نه دي؛ ځکه یې مونږ ته همدا تیار خواړه په کاسه کې راپرېښودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه و چې غرمه مو لړ کدو او پټاټې (کچالو) پیدا او غرمنۍ مو باندې تیاره کړه ، دا چې ډاکټرصاحب د سهار ناشتي له وخته لا وږی پاتې و همدا کدو او پټاټې یې په خوند وخوړل ، پلارمې هم د ده له وجې دا خواړه په خوښي وستایل.
له غرمې ډوډۍ وروسته مې ورور او ابو الغیث له کوره د باندې ووتل زه ، پلار او ډاکټر ایمن همدلته پاتې شوو، هغوی چې کله بهر وځنډیدل له پلار سره مې اندیښنه پیدا شوه چې نکسه هغوی د دښمن په لاس کیوتي نه وي چې د هغوی په وسیله به ترمونږ پورې هم پل را ورسوي (راشي)
تر څو یې یوه ورځ سهار مهال د همدې په شنو ونو پوښل شویو غرونو له لاري د پاکستان په لوري مخه کړه او د هغه ځای اوسیدونکي یوه سړي راته وویل چې امریکایي الوتکو یې د اوسیدو ځای هم ور بمبار کړ .

یو مهال مونږ دری واړه ( زه ، پلارمي او ډاکټر ایمن الظواهري) د غره په سر یوه کور کې دری په دری اوسیدلو.
زما د پلار او ډاکټر صاحب ایمن ترمنځ څه معمولي خوابدن رامنځته شو.
د خوابدون لامل یې دا وه چې پلارمي یوه اندازه د بیرې عسل واخیستل.
ډاکټر ایمن وربانديې په غوصه او ور ته ویې ویل :
د مجاهدینو په پیسو مونږ ته عسل اخیستل ناروا دي.
پلار مي ورته وویل :
راځه ... ویې خوره !
د الله په فضل د جهاد له پیله تر همدې شیبې پورې مي نه په خپل ځان او نه هم په اولاد د مجاهدینو له ماله یوه روپۍ لګولې.
دا عسل مې هم په خپلو روپو اخیستي ، نه دمجاهدینو په هغو .
له دې سره ډاکټر ایمن هم خاموشه او د پلار په ځواب کې مي څه و نه ویل.
دلته له څه وخت تیرولو وروسته ، یوه ورځ یو ناشناخته سړی راغی ، چا چې تر مونږ پوري را رسولی و هغوی ته یې خپل نوم ابو احمد الکویتي ورښوودلی و.
دا سړی چې له کوم لیري ځایه راغلی و ښه ستومانه او دلته له را رسیدو سره سم د کور په بله کوټه کې مي د پلار لیدو ته انتظار و.
پلار مي راته وویل چې ته ورشه ویې ګوره او دا تري مالومه کړه چې ریښتیا هم دا سړی ابو احمد دی؟
زه ورغلم سړی خوب وړی و آرام مي وښوراوه ، چې را ویښ شو روغبړ مي ورسره وکړ ، د خبرو په مهال مي دا تري مالومه کړه چې همدا کس ریښتیا هم ابو احمد دی ، پلار ته چې مي ورغلم او د سړي د ابو احمد والی ډاډ مي ورکړ، سمدستي یې خپلې کوټې ته وروغوښت او ښه اوږد مجلس یې ورسره وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د آرامۍ هیله مو په نه هیلي بدله شوه
یوه ورځ نابېره زمونږ د اوسیدو په خواوشا کې وضعیت بدل شو، امریکایان همدې سیمې ته د عملیاتو په نیت راغلل خو پلار مي چې خبر شو ویل یې کرار همدلته په دې خپل کور کې اوسئ! دا امریکایي ځواکونه چې دلته راغلي داسې ښکاري لکه چې هسي تصادفي دې سیمي ته راپیښ شوي وي او بیرته ژرځي.
دا چې پلار مي تر معمول یوڅه زیات وخت دلته د کومې امنیتي ستونزې له پیښیدو پرته تیر کړ نو بلکل یې دلته زړه ولګیده او په دې سیمې کې یې تقریبا د دائمي اوسیدو سوچ کاوه.
نوموړي په همدې نظر له هغه چاسره چې مونږ ته یې دلته د اوسیدو زمینه برابره کړې وه و خبره وکړه چې دلته مونږ ته خپل کور جوړ کړي ، هغوی ته یې د کور نقشه هم ورکړه ، دا نقشه عین هماغه نقشه وه چې وروسته یې بیا د هغې له مخې په ایبټ آباد کې کور جوړ کړ ، نقشه مخکې تر مخکي په داسې ترتیب ډیزاین شوې وه چې سړی له لیرې باندې تیر ایستل کیده .
د دې سیمې خلکو مي له پلار سره ډیره ښه رویه کوله ، پلار به مي هم ورسره ښه وضعیت کاوه او له هغوئ سره به یې د امریکایانو خلاف جهاد کې نغدي مرسته هم کوله.
ریښتیا هم چې هغوئ په خپلې سیمې کې د امریکایي ځواکونو په خلاف ښه مقاومت کاوه.
وروسته مي د پلار نظر بدل شو او غوښتل یې همدا ځای نور د تل لپاره پریږدي.
مګر د سیمې د خلکو دا پریکړه نه وه خوښه او مونږ ته ټینګ وو چې له دوئ سره پاتې شو، خو پلار مي ورته خپل عذر ووایه ، او ورته ویې ویل چې تاسې له مونږ سره ډیر تکلیف شوي یاست، مونږ غواړو نور د اوسیدو لپاره دا سیمه پریږدو.
که خدای وکړل چې افغانستان له امریکایي اشغاله آزاد شو او په سعودي کې مونږ ته د اوسیدو زمینه مساعده شوه زه تاسو ته دا وعده درکوم چې د حرم مکي په څنګ کې به ستاسې لپاره خاص کور جوړوم، هغوئ ته یې نورې نغدې مرستې هم ورکړې او ښه یې خوشاله کړل.
هغوئ مي د پلار د دې ژمنې په اوریدو ډیر خوشاله او ورځخه وې غوښتل چې د ژمنې د عملي کولو په نیت د لاس قول ورکړي، چې پلار مي هم د موافقې په دود خپل لاس د هغوئ پر لاسونو د پاسه کیښود.
هغه و چې ابو عامر دا مهال له جلال آباده راغی ، پلار مي تر مجلس وروسته ورته ۵۰ زره ډالر ورکړل چې په ننګرهار کې ورباندې جهادي فعالیتونه ګړندي کړي، او له دې سره یې ځیني مهم اهداف ورته مشخص کړل چې باید تر هرڅه وړاندې هغه له منځه یووړل شي.
ننګرهار ته د ابو عامر په رسیدو سره واقعا هم چې نوموړي د امریکایانو خلاف مقاومت کې ښه ګرم او کوم اهداف چې مي پلار ورته مشخص کړي و د هغوئ له جملې څخه یې ځیني له منځه یووړل ، چې د یوه تر ټولو مهم هدف د له منځه وړلو د خبر په اوریدو مي پلار ډیر خوشاله سو ، د شکر سجده وکړه او ویې ویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ننګرهار کې چې مجاهدینو په تیره عربو مجاهدینو ته کوم تکلیفونه رسیدلي و دا هدف د هغوی په انتقام کې له منځه یووړل شو.

مونږ لا همدا د کونړ ولایت په یوه بله سیمه کې و چې امریکایان بیا هغې سیمې ته راغلل، دا ځل هغوی مونږ ته ډیر نیږدې راغلي و، مونږ ته د امریکایي ځواکونو د را رسیدو خبر یوه افغاني مجاهد راکړ، مونږ ناست وو چې یو مخابره په لاس سړی راغی ، سترګې یې رډې (برندې) راختلې وې او په مخابره کې یې مسلسلې ښکنځلې کولې، مونږ ته یې وویل چې هغه دې امریکایان د دې غره لاندې کندې ته را ورسیدل او زښت زیات شمیر شوبلې او ټانګونه ورسره دي.

ریښتیا چې ډیر سخت موقف و ، مونږ هم سمدستی خپل بوټونه په پښو او وسلې مو را واخیستلې او د غره لوړه مو په مخه ورکړه.

سره له دې چې دا مهال په غره کې واروره هم نه وه خو مونږ په غره ختلو کې ډیر ستړي حتی نفس مو قید شو..

مونږ مخ پورته ډیر په تیزي ختلو چې د امریکایي شوبلو او ټانګونو غږونه راپسي را لنډیدل ، یو مهال چې مو ورته وکتل امریکایي همر موټرونه ډیر نیږدې راته لاندې په یوه خوړکې تیریدل، مونږ د هغوي په لیدو د یوې ونې شاته پټ کیناستو، پلارمي ویل چې تر څو هغوئ را باندې پیر نه وي کړی مونږ به ورباندې پیر نه کوو.

له دې سره ډاکټر ایمن وویل: زه خو بیا هغه محبس (تنګې کوټې ته) نه ننوځم.

هغه و چې دا کتار تیر شو مونږ را ولاړ شو بیا مو مخ پورته خپل مزله ته ادامه ورکړه.

زمونږ سیمه ییز لاربښود مجاهدین چې څوک و هغوی د ګڼو ونو په منځ کې راته یو پټ ځای پیدا کړ، دا پټ ځای یوه لویه ونه وه چې کړېږ وړې ریښې یې دا سې په ځمکه غزیدلې وې چې د هغوی پرسر نورې وړې وړې بیخچې (څانګې ) راشنې شوې وې چې د دغو ریښو او د ځمکې سطحې بلکل د یوه خندق (کډي ) بڼه غوره کړې وه په دومره مساحت چې یو نفر تر لاندې په پروتیو ځایدای شوای.

خو همدې د یوه نفر ځای ته مونږ درې واړه ور ننوتلو، پلار او ډاکټر صاحب ایمن څنګ په څنګ وغزیدلو زه د دوئ دواړو پښو ته پریوتلم.

سیمه ییزلاربښود مجاهد نورې څانګې او واښه پر مونږ له پاسه د لویې ونې د ریښو پرچولو باندې وا چول.

له امریکایانو سره دا مهال الوتکې نه ، خو پلېو ځواکونه او زغره والو شوبلو یې تر مونږ لاندې سیمه ټوله نیولې وه.

مونږ دوه ورځې مکملې له سهاره تر ماښام لمر لویدو پورې ترهمدې ونې لاندې د ګیدړانو په ځاله کې په نهاره تیرې کړې ، نه پورته کیدای شوای ، نه مو خوراک او څښاک کولای شوای نه مو لمونځ کولای شوای آن چې رفع حاجت ته نشوای وتلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوې ورځې وروسته چې امریکایان ولاړل ، هماغه افغانی مجاهد لاربنود مو راغی او راته وېې ویل چې نور د خطر وخت تیر شو سیمه نور په امن ده کولای شوای چې راووزئ.
زه ژر را پورته شوم ترڅو چې مي پلار له هغه ځایه بهر راووت ما یې د را وتلو عکاسي وکړ چې هماغه فیلم اوس هم د السحاب نشراتي مؤسسې په آرشیف کې شته دی.
همدا راز له دغه لوړغره څخه د بیرته راکوزیدو په مهال مي له خپل پلار او ډاکټر ایمن څخه تصویرونه واخیستل چې وروسته هماغه تصویرونه زما د پلار او ډاکټر ایمن د بیا ظهور لومړني تصویرنه وو چې په نړیوالو رسنیو کې نشر او هغوی ورباندې د تورې بوړې خیال کاوه.
ورسته مو له دې ځایه څخه د مقابل غره په لوري مزل پیل کړ، دا غر ډیورنډ کرښې ته څیرمه پروت او بلې غاړې ته یې د پاکستان هیواد د سیمو او ښارونو ودانۍ ښکاریدلې.
یاد غر ډیر لوړ و او مونږ هم د شپې په تیاره کې تر سپیده چاود پوري په هغې کې مسلسل مزل وکړ، د غره څوکه دومره هسکه وه چې مونږ د هغې سرته په ورختو سره په وریځ کې پټ شو او جامې د سر او ږیرو ویښتان مو لانده شول.
دوه کسه نور لاربنودونکي هم راسره وو چې ټول شمیر مو پنځه کسه و مګر خواړه راسره فقط د دریو کسانو وو.
د سهارله راختو سره هماغه د هسک غره په لوړو کې یوه کلي ته ورسیدو، خو له هغه مو لاره چپه کړه او خپل مزل مو دغره څوکې ته د رسیدو په نیت اوږد کړ.
د غره د سر څوکې ته په رسیدو سره مي پلار وویل چې دلته به لږ دمه وکړو، بیا به ځو له خیره سره .
همالته مو تر ونو لاندې لږ ځای سم کړ او ټولو ورباندې ډډې ووهلې.
تقریبا لس دقیقې به نه وې تیرې شوې چې شړکنده باران راباندې پیل شو، مونږ چې توله شپه مزل کړی و دومره ستړي و چې له باران څخه د پټیدو لپاره له ځایه نشوای ولاړیدلای.
لماسره ترځان د خپلې کیمرې ډیر تشویش و چې لنده نشي دا دیوه کال عکاسې کړې خواری به مي ټولې برباد شي.
ځکه به مي هغه په راسره جامو کې تاو او ترځان لاندې کوله.
باران وروسته ورو خو له لمر څرک سره بلکل ودریده ، له دې سره سم مو بیا مزل پیل کړ ، لاربنودو مجاهدینو مو د وروستي منزل د رالندیدو ډاډ را کاوه او تر هر څو ګامه وروسته به یې راته ویل :
نور را رسیدلي یو.
د دې سفر ډیر جریان مي هم په راسره کیمرې کې عکاسي کړې او فعلا هم راسره موجود دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اوس نور زمونږ په سفر کې بلکل یو بله مرحله پیلیږي:**
ځکه مونږ د دې هسک غره له څوکې څخه د راښکته کیدو په حال کې نور د پاکستان په لور ور روان یو، همدلته ډیرې ستړیا له یوې خوا لوږې او تندې له بلې خوا نور د ښنو سیک را ختم کړ، هماغه و چې په لاره کې یوې داسې لوې ډبرې (صخرې) ته ورسیدو چې منځ یې کډی او د تازه باران اوبه ورکې ډنډ شوې وي.
هغه اوبه مو په مزه مزه وڅښلې او د مزله پوره کولو لپاره مو ملاوې وتړلې.
دې مزله مو د ورځې ډیره برخه ونیوله چې یواځې نیم ساعت مو پکې دمه وکړه ، بالاخره ماسپښین مهال یوه کلې ته د پټیدو لپاره ور و رسیدو ، د هغه کور اوسیدونکي پښتانه او ډیر میلمه پال خلگ و مونږ یې ډیر ونازولو او د احتیاط له وجې په خپل کورکې د ماشومانو خونې ته د ننې ور وستلو مونږ چې هغې کوټې نه ور دننه شولو داسې مو حس کړه چې کوربنو همدا زمونږ پخاطر خپل ماشومان تازه له همدې خونې بل ځای ته لیږلي. ځکه هلته د پاتې بسترو او بالښتونو د تازه پاڅول شویو تنکیو ماشومانو بوي ته ..
په دې کور کې مونږ د مختار (خالد الشیخ) د راتلو په انتظار تم شولو.
دا کلی د هماغه هسک غره په ډډه کې پروت او تر سرک پوري نیم ساعت لاره وه ، ځکه زمونږ راه بلد ملگري ډیر په تشویش کې وو او را ته ویل یې چې دا سرحدې سیمې دي ، تر همدې کلې لاندې امریکایان او د هغوئ جاسوسان ولاړوي، ښه خبره داده چې مونږ لاندې ورکوز نشو، ما ته مې پلار وویل چې ته او یو راه بلد د لارې معلوملو لپاره ورشئ، هغه یوه شفري نښه هم راکړه چې که خدای مکړه مونږ ونیول شو دوئ به له نیول کیدو څخه خوندې وي.
مونږ چې لاندې ورکوز شوو هیڅ هم نه وو ، هماغه و چې دوئ ته مو د راتگ اشاره وکړه پلار او ډاکټر صاحب هم راکوز او همدلته د سړک پر سر مختار(خالد الشیخ) له پیجارو موټر سره راته انتظار و.
خالد الشیخ په همدې پیجارو موټر کې د پیښور ښار یوه خوندي کورته ورسولو او هلته مو ته د ستړي سفر له ستوماني څخه دوه ورځې پر لپسي آرام وکړ.
وروسته مي مور( میره ) او یوه میریزي خور هم دغه کورته د پلار لیدو ته راغلي.
دلته په را رسیدو سره مو څو ورځنی ستړي سفر یو پړاو پایته ورسیده او تر دوه ورځنی دمې وروسته مي پلار زما د تشویق او هڅونې په غرض راته ویل چې ته نور زلمی شوی یې ته باید ولاړ شي او ځانته نور د واده غم وخوري.
ما د واده په خبره ځان کوڼ واچاو خو ده راته په سوډانی لهجه په موسکي حالت کې وویل :
[یازول .. یازول .. دایرین نشوف أولادك یازول]..
اي ځواکمن او ځیرک زلمیه ! نور مونږ غواړو ستا اولادونه و وینو!
زه پوهیدم چې زما پلار ما د راتلونکو مسؤلیتونو لپاره په یوه تشویقي لهجه پوهوي ، هماغه و چې ما هم د ده خبره ورسره ومنله او له ده څخه په جلا کیدو سلاشوم ، ده څو نفره لماسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملګرتیا په غرض راته راوغوښتل او ماته يې ۵۰۰۰ ډالر د سفرخرڅه راکړه خو راته ويې ويل چې دا مې د دې لپاره درکړل چې ته د خپل د واده کار وبار ورباندې جوړکړې.
مخکې تر دې چې زه له خپل پلار سره مخه ښه وکړم ، د امنيتي ملحوظاتو له کبله مې د پلار او ډاکټر صاحب ايمن د جلا کيدو پريکړه هم شوې او هغه هم په بيل ځای کې ځای پرځای شوي و.
ماهم د وروستي ځل لپاره د خپل پلار لاسونه ښکل او د بل نوي پړاو د پيلولو په غرض تري رخصت شوم.

***

**د ۲۰۱۱ کال د می دوهمه:**
شپه ښه پخه شوې وه، پلار مې د خپل دري پوړيز کور په دريم منزل کې ويده وه چې په لاندني پوړکې د نابلده غږونو په اوريدو را وغورځيده .
خپل زوي خالد ته يې ويل :
خالده ته ورښکته شه دا څه دي؟
خالد په بيړه را ولاړ او ښکتني پوړته ور روان شو.
کوم نا بلده غږونه چې زما پلار يې له خواږه خوبه را ويښ کړ هغه مو د کور په انګړ کې له هوا څخه د امريکايي کومانډو د راښکته کيدو غږونه و کوم چې په دې شپه کې د بريد کولو لپاره راغلي وو.
يادو ځواکونو د دې بريد لپاره ځانګړی تکتيک کارولی و، هغوی په دوو داسې ځانګړو پوځي څرخکو کې د کور تر انګړه ځان رارسولی و چې هيچا يې غږ نه و اوريدلی .
نه يواځې دا چې د هغوی څرخکو غورهاری نه کاوه ؛ بلکې د وسلو پيرونو يې هم غږ نه درلود.
زما پلار، د کورنۍ غړي او د هغوئ ګاونډيان د امريکايي ځواکونو په پيرونو نه ؛ بلکې د هغې څرخکې د انفجار په غږ راويښ شول کومه چې د کور په انګړ کې د ښکته کيدو په مهال پرځمکه راپريوته .
دواړه څرخکې مخکې تر دې چې د کور په انګړ کې ښکته شي له هوا نه يې کوماندويي ځواکونه د کور په انګړ کې پلې کړي ول.
هغوی ډير په چټکې خپل عمليات تر سره کړل، خالد ورور مې چې د پلار په امر لاندې ورښکته کيده له خپلې کمرې لاندني پوړ ته په زينو کې و چې امريکايي ځواکونو ورباندې د بيغږه وسلو شپيلۍ راوړولې او دی يې د تل لپاره خاموشه کړ (وواژه)
د خالد تر وژلو سمدستي ورسته همداسې په ګړنديو ګامونو دريم پوړ ته راوختل ، د پلار د خوب خونې ته له ورننوتو سره سم يې پر هغه پير وکړ، نوموړی يې ځای پرځای وويشت او پرځمکه راپريوت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا مهال له نوموړی سره وسله نه وه، زما مور (میره) مي د ویشتونکي امریکایي پوځي وسلې ته لاس ور واچاوه او له هغه سره چنګال شوه ، خو بیرحمه وژونکي هغه پرځمکه وغورځوله او بیايي په پښه وویشتله چې اوس هم هغه پښه نشي ور ټولولای.

تر دې ورسته يې زمونږ د کور ټولې ښځې او ماشومان په یوه کمره کې سره راغونډ کړل لاسونه يې تر شا ور وتړل او د ټولو مخونه يې د یوال ته وګرځول.

لیږ ګړی وروسته مي ورته د پلار په وینو لړلی جسد راوړ او د هغوی ترشا يې پرځمکه وغزاوه .

۹ نمبر پوځي د کور پر ښځو او ماشومانو غږ وکړ او ورته ویې ویل:

ورته وګورئ!

دا څوک دی ؟

هغوئ ټولو د یاد جسد په لیدو سره په یوه غږ ورته وویل :

هذا عبد الله (دا عبدالله دی.)

تردې وروسته يې دوئ ته وویل چې تاسو مو بیرته مخونه دیوال ته واړوئ او له دې سره سم مي د پلار بیروحه جسد له ځان سره یووړ او د خالد هغه يې همالته پرېښود.

د امریکایي سرتیرو تر تللو څه وخت وروسته پاکستاني پوځیان راغلل، او د امریکایانو لخوا لاس تړلي ښځي او ماشومان هغوی له ځانه سره بوتلل.

د کور په انګړ کې یوه نه زغمل کیدونکي فضا حاکمه وه ، د خالد مور د خالد جسد ته په رارسیدو سره پر هغه ورټيټه ، د هغه په وینو لړلی تندی يې د وروستي ځل لپاره ښکل کړ او نور تري روانه شوه.

د کور په کونج کې د کور عمومي دروازې ته نیږدې ځانګړی ځای و چې په هغه کې پیره دار له خپلې دری کسیزې کورنۍ ( میرمن او دووزامنو) سره اوسیده او په همدې شپه ورته یوبل میلمه هم راغلی و.

برید کوونکو هغوئ له میلمه سره ټول یوځای ووژل ...

دا پیره دار هماغه ابو احمد الکویتي (افغانی) و چې د کونړ غرونو ته مي پلار ته په یوه خوندي ځای کې د کور جوړولو په نیت راغلی ، په ایبټ آباد کې دا کور د ده په نوښت جوړ شوی او تر لس کاله زیات وخت ورسره په همدې کلی کې د پیره دار په توګه پاتې شوی و.

امریکایي ځواکونو خپله هماغه غورځیدلې څرخکه هم ورسره یووړه خو د اسامه ، خالد او نورو شهیدانو په وینو ککړ کور يې همداسي ړنګ بنګ پرېښود...

یادونه : دغه معلومات د ایکس (EXILE) انګریزي کتاب څخه پښتو ته ژباړل شوي دي.

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**